د خپل یاد په جزیرو کښې

# ډاکټر خانصاحب
# او "نابالغه" اولس

پاتې برخه

م-ر-شفق

مولانا صاحب (محمد عنایت الله) وئیل ډاکټر خان صاحب څۀ یوه ګېنټه کښې واپس راورسېدو او دغه حال ئې بیان کړو، بیا څۀ ګورو چې پنځلس شل منټه پس، هغه سړے او ورسره ماشومه لُور هم د پولیس بدرګه کښې په خېر او حفاظت راورسېدل. دغلته د ټولو ناستو خلقو په مخونو رڼا خوره شوه او سره د هغه مسافر ډاکټر خانصاحب ته په دعاګانو سر شو. پلار او لُور ډېر خوشحاله وو، ډاکټر خانصاحب او نورو خلقو د هغوي ډاډګېرنه او طبع تسلي وکړه او په مینه مینه ئې رخصت کړل...

د ۱۹۳۵ء ایکټ لاندې چې ۱۹۳۷ء کښې صوبه کښې ټاکنې وشوې نو ایکې یوه لویه سیاسي ډله کانګرس مېنځ ته راغله چې غالب اکثریت پکښې د خدائي خدمتګارو ؤ، دغه موده کښې مسلم لیګ دلته د سیاسي ګوند په توګه څۀ حېثیت نۀ لرلو، صرف د پېرنګي حکومت پره دارو، نوابانو، خان بهادرانو پکښې په خپل ذاتي حېثیت کښې یا د ذاتي ګوندونو په شکل کښې صوبائي اسمبلۍ ته رسېدلي وو او کۀ خدائي خدمتګارو د سیاست په مېدان کښې د قانون او آئین مبارزه ګټلې هم وه خو برطانوي راج باچا خان او د تحریک په هېڅ جوړ له نۀ شو زغملے ځکه نو په غېر اخلاقي او غېر قانون طریقو به ئې د دوي خلاف فضا کښې زهر خورول. دغه موده کښې د باچا خان خپل ذاتي موقف دا ؤ چې وزارت هله جوړول ښۀ دي چې ټول اختیار لاس ته راشي. وسیلې مو په واک کښې شي، دا هم د پېرنګي سامراج یو چل دے. په هر څۀ به خپټه دۀ وراچولې وي او خلقو کښې به وشرمولے شي د حکومت وزیران او سیاسي مشران، لکه چې وئیلے شي "ملک خراړو وران کړو، بدنام کارغان دي" د دې ټولو مشکلاتو باوجود د ازادۍ تنګیالو د پېرنګي استبداد دا چېلنج قبول کړو او د وزارتونو جوړولو فېصله وشوه.

د آل انډیا کانګرس فېصلې ترمخه زمونږ صوبه کښې خدائي خدمتګارو د کانګرس په مرسته د ډاکټر خانصاحب مشرتابۀ کښې وزارت جوړ کړو نو په لږه موده کښې ئې د خپل تحریک بنیادي مقصدونو په رڼا کښې زړور ګامونه پورته کړل. کومو خلقو چې په سترګو د غرض او هوس پټۍ تړلې وې هغوي ته د خپل ځان نه سېوا د قامي بقا او قامي ښېګړې کارونه نۀ ښکاري، ولې حقیقتونه خپل ځان په خپله ښیي. د چا په منلو یا نۀ منلو د تاریخ له سترګو نۀ شي پټېدلے. دلته دا خبره هم تر پام لاندې ساتل پکار دي چې صوبه کښې د ډاکټر خان صاحب مشرتابۀ کښې وړومبے کانګرس وزارت جوړ شۀ نو دا ستمبر ۱۹۳۷ء ؤ. ټوله صوبه کښې

برطانوي راج خپل نوابان، خان بهادران "اعزازي مجسټرېټان" جوړ کړي وو، هغوي ته ئې په عام اولس د حکومت کولو اختيارات ورکړي وو. دوي به په خپلو کروندګرو ناروا ټېکسونه لګول، بيګارونه به ئې پرې کول، پښتانهٔ وګړي به چې د نوابانو حجرو ته لاړل نو په اړولو کټونو کښې به ورته کښېناستل او د کلي د "ملکانو" په ذريعه به ئې په دوي ځوکۍ کولې... دغو بوږنوونکو حالاتو کښې د ډاکټر خان صاحب کانګرس وزارت د اقتصادي اولسي ترقۍ په پروګرام لاس پورې کړل او انقلابي اصلاحات ئې وکړل. مارچ ۱۹۳۸ء کښې کروندګرو، کسانانو او وړو زميندارانو ته د اسانيو، زرعي قرضو او امداد ورکولو دپاره "ريليف بل" وړاندې کړے شۀ. په ۱۸ مارچ ۱۹۳۸ء دغسې يو بل بِل وړاندې کړے شو، د دې قانون سازۍ بنيادي مقصد دا ؤ چې غريب کسانان، کروندګر او واړهٔ زمينداران د خپل زرعي پېداوار په خوړو پوه شي او د منډۍ د دلالانو د زور زياتي نه خلاص کړلے شي. د مخالف ګوند مسلمانانو غړو اورنګ زېب خان، سعدالله خان او پيربخش د دې ټينګه پره وکړه. د دوي په ټينګه مرسته دغه دواړه بلونه په ۲۱نومبر ۱۹۳۸ء او ۵ اپرېل ۱۹۳۹ء منظور کړے شول او په صوبه سرحد کښې دهقانانو، کسانانو ته په وړومبي ځل د ساه اخستو موقع ورکړې شوه.

صوبائي اسمبلۍ کښې په ۳ مارچ ۱۹۳۸ء اېم افضل خان د "ټيري واجباتو ضابطو منسوخ کولو بل" وړاندې کړلو، دهٔ ټيري کښې په خلقو "د غېر انساني او ناروا ټېکسونو" لګولو خلاف احتجاج وکړو. دغه وخت د ټيري نواب باز محمد خان هم ايوان کښې په مخالف بنچ ناست ؤ. په دې اړه ايوان کښې يو اوږد بحث شوے ؤ، د بل منظورېدو نه پس چې دا ګورنر کننګم ته د لاس ليک کولو دپاره ولېږلے شو نو دهٔ پکښې هغه دغه کول، ځکه چې دا نۀ يوائې په "خانانو نوابانو" د کانګرس د وزارت تللے ګوزار ؤ، بلکې ډېب ئې برطانوي راج ته هم ختلو خو د ډاکټر خانصاحب دپاره دا معامله دومره اهمه وه چې د مستعفي کېدو دړکه ئې ورکړه. انګرېز ګورنر کننګم بل اسمبلۍ ته داسې راواپس کړلو چې د "ټيري واجباتو ضابطې" منسوخ کړې شوې خو ګورنر خواست کړے ؤ چې "حق تعلقداري" دې د بل نه لرې کړے شي ځکه چې دا د زمکې ملکيتي حقونو سره اړه لري. اسمبلۍ د ګورنر په خواست عمل وکړو، نواب باز محمد خان ته د "حق تعلقدارۍ" لرلو اجازت ورکړے شۀ، دغسې د يوې کړکېچنې مقدمې تسله ناک "حل" راووېستے شو.

د پښتنو علاقه کښې د خانانو او د هغوي د کروندګرو دهقانانو ترمينځ چې کله هم څۀ شخړه راپورته شوې ده نو کۀ يو طرف ته خانان ناروا ظلم کوي بل طرف ته کسانان هم اخلاقي ذمه وارۍ نۀ پوره کوي، مونږ کۀ يوې ډلې ته ګنهګار وايو نو بله ډله هم بې ګناه بې خطا نۀ شي ګڼلے کېدے.

انسانان دي په سرشت کښې دواړه يو دي
نۀ په خان کښې انصاف شته دے نۀ دهقان کښې
(ايوب صابر)

د ډاکټر خان صاحب په وزارت کښې د "غله ډېر" شخړه هم څۀ دغسې وه. وړومبۍ مرحله کښې ناقلاري او بدامني پېدا شوه. د کانګرس، سوشلسټ ګوند، د "غله ډېر" د کروندګرو بې غرضه مرسته کوله. د زمکې جائداد ملکيت د طورو د نواب حميد الله خان ؤ. د هغۀ نه پس د هغۀ زامنو خپل زور ښودلو او د غله ډېر" کروندګرو مزاحمت

ته بېدې راکښلې وې، خدائي خدمتګارانو ته هم ګرانه پېښه شوله، خبره ډيلي ته ورسېده.

په ستمبر ۲۳ "د سياسي قېديانو کانفرنس" کښې د کسان تحريک لاربښود بخشي فقير چند د "غله ډېر" ستونزه وړاندې کړه، د کانګرس وزيراعظمانو کښې ډاکټرخانصاحب هم دغلته موجود ؤ، هغه په "غله ډېر" کښې د الغـاؤ تلغـاؤ جوړوونکـو غندنـه وکـړه او وې وئيـل چې "د قـانون بنيـادي اصـول بـه اورمـرو پـه ځـائے ساتلے شي". د ډاکټر خان صاحب دا بيـان صرف د خُلې خبره نۀ وه، ډاکټر خانصـاحب قـانوني انتظـامي چـارو کښـې پـه لاس وهنـه خپـل سـکه زوے عبـد الله خـان ګرفتار کړے ؤ، مقدمه ئې پرې چلولې وه او د اتلس مياشتو با مشقته قېد سزا ئې هم ورکړې وه. (او دا هم يـو ځـانګړے مثـال دے) خانـانو، نوابـانو بـه د خپلـو کروندګرو دهقانانو څخه "بيګار" او "توري" اخستلې او په ناروا غېر قانوني ټېکسونو ئې تر پوزې راوستي وو خـو پـه دې حوالـه ډاکټـر خانصـاحب "د آل انـډيا سوشلسـټ پـارټۍ" جرګـې تـه د "غلـه ډېـر" د دورې اجازت ورنۀ کړو، دا ئې "بېروني مداخلت" ګڼلو البته تسلي ئې ورکړه چې دا شخړه بـه پـه امـن ناکـه او جمهوري توګه هواره کړې شي. دغسې نومبر ۱۹۳۸ء کښې د "غله ډېر" احتجاجي هلو ګولو کښې ګرفتـار شوي قېديان بې د څۀ شرطه پرېښودے شول او ډاکټر خان صاحب د طورو د نواب له طرفه لګولي شوي "غېر قانوني ټېکسونه" او بندېزونه هم ختم کړل. د ارباب عبـد الغفور پـه تحريـک د "اعـزازي مجسـټرېټانو" عهدې له مينځه يوړلې شوې. دا د ډاکټرخانصاحب د وزارت يوه بله کارنامه وه.

پېرنګـي حکومـت "آنرېـري مجسـټرېټانو" لـه عدالتي اختيـارات هم ورکړي وو، د دغو اختيـاراتو ترمخه يو نواب د پانسۍ سزا هم ورکولې شوه او د دغـو نوابـانو، خـان بهـادرانو د انرېـرۍ مجسـټرېټ جوړېدو قابليت صرف دا ؤ چې د پېرنګيانو وفادار ؤ، ګڼي نو د صوبې درېو سوو کښې زيات شمېر اعزازي مجسټرېټان داسې هم وو چې "الف" ته به ئې کوتک وئيلـو. خـو د غريب او خـوار اولـس نـه بـه ئې څـرمن ابستلې شوه. په ۷ اکتوبر د "اعزازي مجسټرېټانو" ( ) واکمني ختمه شوه. د ګورنر کننګم په خيال دا يو لوئے ګـوزار ؤ چې د خـدائي خدمتګارو حکومت پـه هغـو نوابـانو او خانـانو کـړے ؤ، څـوک چې د پېرنګـي د حکومت مضبوطې متې وې.

د خدائي خدمتګار تحريک يو لوئے احسان او د ډاکټر خان صاحب د وزارت يوه ډېره اهمه کارنامه دا هم وه چې د ميا جعفر شاه صاحب په تحريک د وړيا تعليم او پرائمري سکولونو کښې ماشومانو تـه پـه مـورنۍ ژبـه کښـې د تعلـيم ورکولـو دپـاره عملـي اقدامات وکړے شول خو کله چې پاکستان جوړ شۀ نو پـه دغـه قـائم شـوي روايت خـاورې واړولے شـوې. د اروابښـاد ګـورنر جنـرل فضـل حـق پـه ګـورنرۍ کښـې پرائمري سکولونو کښې پښتو يو ځل بيا د تعليم ذريعـه وګرځولې شوه خـو دغـه سلسـله زمـونږ د بې حسۍ او بې غورۍ له کبله نيمګړې نيمه خوا شوه او زۀ خپـل ځـاني پـه دې وېنا ځـان مجبـوره ګـڼم چې کـۀ "نابالغه" ټکے هر څو د "ډاکټرخانصاحب" تکيه کلام ؤ، ولـې مـونږ تـه نـن هـم د خپلې بقـا او ځـان پېژنـدنې پـه حوالـه يـا د عظيم باچا خان د قـامولۍ پـه تحريـک، د ډاکټر خان صاحب د قـامي خواخُوږۍ پـه عملي کـردار عـن چې د خـان عبدالولي خان پـه جمهـوري مبـارزه او سيـاسـي بصـيرت د پوهېـدلو دپـاره "د فکـري بلوغـت" ضرورت دے. ■

---

۲ - يادګېرنـه: دا تفصـيل د سـېد وقـار علـي شـاه (پروفېسـر ډاکټـر قائداعظم يونيورسټي) انګرېزي تـاليف (Muslim Politics in the NWFP (1937-47 کښې ليدے شي.(شفق)